
AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهاند محمدبشیر دودیال

٢٠٢۶/٠۴/٢۵

# په اتلسمه پېړۍ کې له هوتکیانو تر ابدالي دولته اقتصادي تفکر



**د ګرګین- صفوی د ښکېلاک په وړاندې د میرویس نیکه د مدبرانه او ازادی بخښونکی قیام د ۳۱۷م کال په مناسبت**

سریزه:
میرویس خان چې وروسته بیا د خپل شجاعت، تدبیر، د خپلواکی غوښتنی مبارزې او د کرازماتیک لیدر د اوصافو له مخې، د میرویس نیکه په نوم وپېژندل شو، زموږ تاریخ کی نه هېریدونکی نوم دی. میرویس نیکه په ناچیزو امکاناتو، پرته له منظم پوځ او وسلو وکولای شول د ګرګین او صفوی خاندان جابرانه دوه سوه کلن تسلط څخه خلک وژغوري، د ده دا د خپلواکي غوښتني اقدام او زړور مدبرانه قیام د خوشالخان، روښانی غورځنګ او آن دلودیانو له ملی آزادی بخښونکو افکارو رڼایی اخیستي وه او دا عالی ازادایخواهانه روح تر ده وروسته هم دوام وموند چې په برکت یې بالاخره ۱۹۱۹م. کې یو بل بلوسګر قوت هم لکه د ګرګین په شان زموږ له خاورې ووت. د افغانانو دا مبارزات بعضی وخت وقفوی، بعضی وخت مقطعی، اکثراً سراسری او ملی اما بعضی وخت بنابر شرایط محلي وو، خومهمه داده چی د ملت جوړولو جوهر او سوچ یې تل ساتلی،روزلي او وار په وار یی انکشاف ورکړی دی. نن افغانانو ته مهمه نده چې غازی امان الله، یا میربچه کوهدامنی، یا ملالی، یا شاه اشرف، یا میرمسجدی خان، یا امام بردی ازبیک، یا ایوبخان، یا وزیر یارمحمد خان، یا میرویس نیکه چېرته او څنګه د پردیو مقابل کی قیام وکړ، بلکې مهمه داده چې دا ټول د دوی مشترک تاریخ او افتخارات دي. میرویس خان هوتک نه یواځې یو مُدبر رهبر او سیاسي مشر، بلکې د خپل هېواد او خلکو لپاره یې د معیشت او اقتصادي هوساینې سنجول شوې فکر درلود. متاسفانه موږ د اتلسمې پېړۍ له اقتصادي او عمراني ریفورمونو اوپېښو سر سري تېر شوي یاستو، د عبرت او زده کړې لپاره به غوره وي چې په دقت یی وګورو. دلته په ډېر لنډ ډول د اتلسمې پېړۍ بهرکې د ګرګین له ظلم څخه د خلکو د خلاصون او د هوتکیانو د دورې د اقتصادي تفکُر په اړه خبرې کوو.

د افغانستان د اتلسمې پېړۍ دورې ته لنډه کتنه
د اتلسمې پېړۍ په پیل کې زموږ د نیکونو ژوند له اقتصادي پلوه ښه نه و. لاهم په ټوله سیمه د چنګیز د ویجاړیو نښې پاتې وې. بیوزلي او د مغلو د تاړاکونوتخریبي آثار دومره ژور و چې د پینځه سوه کاله په اوږدو کې لا نه و رغول شوي. مخکې د چنګیز تر تاړاک؛ کرنه او څاروي روزنه چې د آریائیانو اصلي پېشه او د ژوند دمعیشت وسیله او د اوبخور سیستم، ویالې، لارې، ګودرونه او کاریزونه مهمه زیربنا وه، چې له هغه وخته تر اتلسمې پېړۍ پورې بېرته نه وه رغول شوي، لا زیاتي ، د صفوی حاکمانو استثمار هم په خلکو بار و. هغه صنایع چې موږ لرل او صنعتکارانو مو تر چین پورې رسول، له منځه تللي وو...لنډه دا چې د آریائیانو ټاټوبی او د خراسان هغه آبادي او معمور ښارونه چې عربی مورخینو یې صفتونه لیکلي وو، یو هم نه و پاتې. تردې بدتره یې لا دا چې هېواد مو له ختیځ، سویل او په تېره لویدیځ لوري تر ګواښونولاندې و.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

شمال ولایتونه(بلخ، تخار او بدخشان) د ګوډ تیمور او د بخارا د اُزبیکي استثمارګرو تر حریصانه نظر لاندې و، له نیکه مرغه دوی د ماورالنهر او هندي واکمنو په وړاندې د پاڅون روحیه خپله کړه او د یوې سیمه ییزې واکمي ترلاسه کولو ته چمتو وو، لویدیز او جنوب کې د صفویانو او ختیځ کې د مغلو واک و. ختیځ کی خوشال خان او بیا روښانیانو د مبارزې توغ اوچت او مغل یې لړزولي و. بلوچستان(مستونګ)، هرات، کندهار، کلات او اندخوې (د افغانستان ډیره برخه) د صفوی ظالمانه ښکېلاک لاندې وه. دغه ښکېلاک د خلکو د مادي او معنوي ژوند پروا نه لرله، بلکې د خپل عیش او تنعُم په فکر کی و. د نني افغانستان ټولې یادې شوې سیمې فیوډالي او آن د مرئیتوب ژوند درلود. ولسونه تر ستم لاندې وو. شیبانیانو د یو ملی خپلواک دولت هڅې وکړې، صفویانو ورباندې یرغل وکړ، شیباني یی ونیو او د خپل صفوی لښکر عسکرو ته یې وویل چې د شیباني غوښې وخوري، عسکرو امر اجرا او دوو ساعتونو کې یې شیباني خام وخوړ. دغه ظالم انسان خوړونکي استعمار تر۱۷۰۹م. پورې دوه سوه کاله پر افغانانو حکومت وچلاو. دلته به ډېر لنډ او ځغلنده د صفوی او ګرګین د وحشیانه واکمنۍ څخه د میرویس د قیام، د احمد شاه بابا د لوی دولت تر تشکیل او بیا د اعلیحضرت امان الله خان غازی د خپلواکۍ غوښتنېد مبارزو ترڅنګ؛ په اقتصادي تفکر رڼا واچوو:

د اوولسمې پیړۍ په پای کې چې لودیانو هند کې واکمني تر لاسه او مُغل یې و پرځول، یوسفزیو د پېښور سیمه خپلواکه کړه، سیمه کې یې د(روهیله )یو آزاد او متمدن غورځنګ واک ته ورساو. دا په داسې حال کې چې تردې مخکی (شپاړسمې پیړۍ کې) لودیانو په دې سیمه کې بشپړه ملی واکمنی لرله.

وروسته بیا؛ د خوشالخان او بیا د پیرروښان په افکارو سره پیل شوي غورځنګ وکولای شول چې د افغانستان ختیځ کې ټول ولس متحد کړي. د دوی ملي او مذهبي لارښوونو د سیاست ترڅنګ؛ ژور اصلاحي، مدني او اقتصادي اړخ درلود. آن دا چې روښاني نهضت ښځو ته مدني، اقتصادي او سیاسی ژوند کې پراخه ونډه ورکړه. د بایزید روښان مېرمن بي بی شمسو او لور یې علایي د دغه نهضت مخکښانې شوې او روښاني معنوي لارښوونو د خان او ملک واک پای ته ورساو. عام ولس، بزګر او شپون ته د مادی نعماتو او اقتصادی هوساینې امکان برابر شو. له لودیانو، روښانیانو تر هوتکو پورې زماني فاصله وه او سیمه هم پراخه وه، خو د متحد او خپلواک کېدو روحیه د افغانانو د اوسېدو سراسر سیمه کې د خپرېدو په حال کې وه.

سره له دې چې بایزید روښان د افغانستان شمال او آن تر ازبکستان مریدان لرل، خو ویې نشو کولای ټول متحد کړي. د دغه نهضت اغېز او د یوسفزو روښانه مشال سیمه کې فعال و، د بیلګې په توګه کلونه کلونه وروسته د روښاني نهضت څخه متاثر او په روښاني روښانه او منور فکر روزل شوي یو ځوان (نثاراحمدیوسفزی) د تاجکستان د معارف بنسټ کېښود او د تاجکستان د معارف لومړنی وزیر همدا یوسفزی ځوان و چې د خپلو نیکونو او غور نیکونو په دود د بایزید یو مخلص و.

په هر ترتیب شمال او ختیځ کې د خپلواکۍ جنډه رپانده شوې وه، خو جنوب او لویدیځ د صفویانو ظالمانه ځبېښاک لاندې و. یوه نیمه پیړۍ وخت یې ونیو ترڅو چې هوتکي دولت د میرویس نیکه تر قیادت لاندې تشکیل او صفویان او استازی یې(ګرګین) له هېواده وشړل شول.

دا د افغانانو د خپلواکي غوښتلو هغه ناآرام روح و چې په بیلابیلو زماني وقفو کې دهند له نیمې وچې تر هندوکش، بیا تر مستونګ، کندهار او آن آذربایجان او اصفهان سرګردان و چې بالاخره یې اتلسمه پیړۍ کې استقرار وموند او دهمدې پېړۍ تر پایه یې د بشپړې ازادي زیری یې راوړ، جوهر یې (افغانی مستقل دولت جوړول) و.

زموږ بحث د هوتکیانو په ټول سیاست او مبارزو نه دی، بلکې یوازې اقتصادي او عمراني اړخ باندې یې ډېرې لنډې خبرې کوو:

اتلسمه پیړۍ کې د اقتصادي تفکر زړي

د اقتصادي او مدني ژوند بنسټ، اتحاد او یووالی دی. حال دا چې صفویانو دخپلو استثماري اهدافو په خاطر ټل د هېواد غرب او جنوب کې محلي خانان، فیوډالان، غلجایي مشران او ابدالي مشران یوبل سره په جنګ اچول. اروانښاد غبار د صفویانو دغه تفرقه افګنانه دسایس د( افغانستان درمسیرتاریخ) په ۳۱۶ مخ کې ډېر ښه بیان کړي دي، دلته بحث نه وربانديې کوو.

زموږ بحث د اتلسمې پیړۍ په پیل کې د آزادي بخښونکي غورځنګ پاڅون او دملي دولت د یوې هستې(زړي) د موسس میرویس نیکه او دهغه د اقتصادي تفکر په اړه دی، چې ولس ته یې د خپلواکي اوتمدن او هوساینې تر څنګ سوداګري او عمراني چارې وروښودې. دا غورځنګ داسې وخت رامنځته شو چې بیوزلي او بی اتفاقی له حده وتلې وه. اروانښاد غبار د خپل پورتني اثر په ۳۱۷مخ کې لیکي:

(...په داسې مهال د ذکاوت او پوهې خاوند شخص، دخلکو مشري ترلاسه کړه چې پیاوړی ارده یې لرله، دغه آزادیخواه اووطنپرست شخص هماغه نامتو میرویس خان و).

میرویس د شاه حسین صفوی او په سیمه کې د هغه د لاسپوڅي ګومارل شوي ګرجستاني ګُرګین په وړاندې له تدبیر کار واخیست. ده د مالیاتو نظام شفاف کړ، دی کار آن صفوی او ګرګین حیران کړ. ده د ښکېلاکګروفساد رسوا کړ. ګرګین دمسیحیت تاویزونه او اوراد لوستل، خو عملا یو عیاش، رشوتخور او ظالم مستبد و. میرویس خان په تدبیر سره د حج د مراسمو په ترڅ کې د اسلامی نامتو علماوو فتوا ترلاسه او د مستبد صفوي اوګرګین په وړاندې یې ولس متحد کړ. ده نه یوازې صفوي او ګرګین څخه هېواد وژغوره، بلکې د ارمنستان هغه دسیسه یې فلج کړه چې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

(اسرائیل) په نوم د لیږل شوي سفیر په واسطه یي غوښتل دلته د ارمنیانو واک ټینګ کړي. که د میرویس نیکه تدبیر نه وای او ارمنیان بریالی شوی وای، بیا نو نیمایی افغانستان له لاسه وت او د خوشالخان او بایزید د مبارزی پایله په ختیځو ولایتو کی هم له منځه تلله.

له نیکه مرغه ده په ۱۷۰۹م. کال د اپریل په یوویشتمه ښکېلاکګر بشپړ مات او د یوه ملی خپلواک دولت د اعمار زری یي زرغون کړ چي بیا دغه زړي وده وکړه، قد یي وکړ او ابدالي امپراتوري تشکیل او د نني افغانستان بنسټ شو. د میرویس نبوغ دا و چي خواره واره مشران او قومونه یي متحد کړل. ښاري مدنی قانون یي حاکم او یو نوی آزاد او له مالي فساد او لوټ او جبرڅخه فارغ افغاني نظام یي حاکم کړ. سوداګري، صنعت او اقتصادي رونق یوازې او یوازې همدې ډول نظام کي ممکن و. د دې نظام لپاره میرویس خپله کرنسي(سکه) هم رامیدان ته کړه او خپله یي د یو تجربه لرونکي سوداګر په توګه سوداګرو او متشبثینو ته هدایات او مشورې ورکولې. ملی کرنسي د ده دخپلواک دولت یو بل عنصر هم ور بشپړکړ. عجیبه ده چي یو هالندي څېړونکي د هوتکیانو د وخت د سوداګریزو او اقتصادي مسئلو څېړنه کړې او د یوه اروپایي په توګه یي د هوتکیانو دوره ستایلې ده. له دې څخه ښکاري چي هوتکیانو هغه وخت د سیاسي خپلواکي ترڅنګ، اقتصاد هم مهم بللی و. د دې دورې آبدات، لارې، دمستوفیتونو دتشکیل جوړول(دلومړي ځل لپاره) او مالیاتي ریفورمونه د دې مدعا ثبوت دي.

میرویس هوتک له هرات تر کندهار او بلوچستان او تر ملتان نظر درلود، د ملتان دهغه وخت حاکم یي کندهار ته راوغوښت. ټوله سیمه کي یي له امنیت وروسته، د سوداګري رونق ته پاملرنه وکړه. دا هغه فکر و چي تر ده مخکي سوری شیرشاه درلود، افسوس چي د لودیانو پرتم او د سوری شیرشاه ارمانونه چي ملی یووالی او له هندوستان تر تور سمندرګي او شاماتو د لارې اېستل و، هغه وخت پوره نه شو. میرویس نیکه په خپله ډېره لنډ دوره حکومت کي خپل ولس ته فکر ورکړ، خو ناڅاپي مړیني یي ارمانونه نیمګړي پرېښودل. د ده د سیاسی فکر تر څنګ؛ د ده اقتصادي او عمراني افکارو د عملي کېدو فرصت ونه موند. میرویس نیکه ټول قومونه( بلوڅ، پښتون، تاجک، ازبک او هزاره سني او شیعه) یو موټی وساتل او ټولو د ده اوامر منل. د ده د دوران په سکه دا بیت پاتي شو:

سکه زد بردرهم دارالقرار قندهار

خان عادل شاه عالم میرویس نامدار

له خوشالخان تر بایزید، بیا تر میرویس او تر احمد شاه بابا پورې؛ دوی ټولو دخپلواکي د آرمان د لرلو ترڅنګ ټولنیز، کلتوري او اقتصادي آرمانونه هم لرل. د میریس خان هوتکي له وفات وروسته د ده وررور عبدالعزیزهوتکي، ورپسي یي زامنو محمودهوتکي او شاه اشرف هوتکي تر۱۷۲۹ م. پورې واک درلود. د دوی د عمراني کارونو نښې همدا اوس هم تر اصفهان پورې لیدل کیږي، دوی فقط یو ارمان درلود: آزاد او سرلوړی افغانستان!

وروسته د چنګیز- هلاکو- ګوډتیمور تر تاړاکونو هوتکیانو له(۱۷۰۹ر۴ر۲۱) ورځي څخه د یو افغانی خپلواک تمدن بنسټ ټینګ کړ. البته یو ځل هرات کي شاهرخ مرزا کوښښ کړی و، یو ملی خپلواک حکومت ولري، خو له یوې خوا د هند او له بلې خوا د ماوارالنهر- ازبیک، ګرجستان، عثمانی ترکانواو ارمنیانود پیاوړو حاکمیتونو له ګواښ سره مخ کړی و.

اتلسمه پیړۍ د افغانستان لپاره یوه برجسته دوره شوه، چی ۱۷۴۵م. کي احمد خان د میرویس په قدمونو قدم کیښود او له اصفهان او تهران نیولی تر دهلی یي پاچاهي جوړه او د لومړي ځل لپاره یي مستوفی الممالک(دمالیي وزیر) او دمالی چارو بیخلن سمون عملی کړ. د(مستوفي) اصطلاح افغانستان کي له همدې وخته را پاتي ده. احمد شاه بابا له کشمیر، تر سند او بلوچستان او کندهار او بلخ پورې مالیات یوې مرکزی خزانې ته په امانتداری راټول کړل. دمستوفي د مقررې پر مهال به یي خپله ورڅخه آزموینه اخیسته. هر مستوفي یي د لیاقت او دینی پوهې او ایمانداري له مخې مقرر او د ټولو قومونو ملی آرمانونه، د امپراتوری د لوی پوځ، د سراسری تجارتي لارو او تاریخي ودانیو د جوړولو لګښتونه یي پوره کړل. اتلسمه پیړۍ د میرویس نیکه د تفکر له برکته د معاصر افغانستان د تهداب دوره شوه. دا وخت( ټوله اتلسمه پیړۍ) د پارس خلکو هم له قاجار، صفوی، ګرګین وروسته د آرامی ساه واخیسته. له هند څخه هم د مرهټه متعصب قوم د ظلم او اقتصادي استثمار د خلاصون لپاره افغانستان ته شکایتونه رااتلل، نوځکه افغانستان د ټول قوم د خلاصون لپاره څو ځله د مرهټه ظالمانه واک ور محدود کړ او بالاخره له اتلسمي پیړۍ تر نولسمي پیړۍ پورې د افغانان مبارزاتو د هند د نیمي وچي مبارزینو ته هم الهام وروباخښه. دا وخت دبریتانیا استعمار چي د هند خلکو ته یي حتا د مالګي اجازه نه ورکوله، له هند څخه هم په ټولیدو شو.


هغه افغانستان چي اتلسمه پیړۍ کي په واقعي مانا مستقل او د یوه دولت په توګه جوړ شو، تر نن پورې د ټولو میشت قومونو د ګډ کور په توګه د لوړو- ژورو له تېرولو سره سره ودان دی. که د میرویس پاڅون نه وای دا سیمه به د ماوارالنهر، ازبیک، ګرجستان، عثمانی ترکانو او ارمنیانو ترمنځ ویشلې وه. که میرویس ملي او د خپلواکی روحیه نه وای روزلې، وروسته مو له انګریزي بلوسګرو سره بریالی مبارزه نشوه کولای. د خپلواکي د تلقین تر څنګ یي ولسونه سوداګري او اقتصادي رونق ته وهڅول. کندهار یې د حکومت د مرکز په توګه؛ د تجارت مسیر او د لویو مهمو تجارتی چارو ښار وګرځاو چي سوداګرو په ښغمه زړه دهندیانو ،صفویانو ، بلوڅانو ترمنځ د آسونو، غلې- دانې، وچې میوې او منسوجاتو سوداګري کوله. دا مهال د وریښمو لاره له هرات څخه کندهار او بیا هند ته رسېدله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

له بده مرغه چې د استعمار يرغلونو موږ دخپل اقتصاد ښه کولو ته پرېښښودلو. هغه تجارت، دمستوفيت نظام، دسوداګري د کاروانو مسيرونه، بزګري او د څارويو روزنه، لاسي صنايع، ژرندې او اوبخور سيستم چې اتلسمه پېړۍ کې استحکام موندلی و، څو ځله بيا ړنګ شول. وروسته د لويې لوبې( Great game/G.G) په شروع کېدو سره، د اميرشيرعليخان صنعتي کول، د اميرامان الله خان ټول اقتصادي، کلتوري، تعليمی، سياسی، نظامي او تخنيکي ريفورمونه ښېرته په ټپه ودرول شول. د اتلسمې پېړۍ په ترڅ کې را پيل شوی سمون څو څو ځله د پرديو د مداخلو، بغاوتونو او يرغلونو له امله ثمر ته ونه رسېدل، خو د نوښتګرو( ميرويس هوتک، اسدالله ابدالي، محمود، اشرف، احمدشاه بابا، محمدخان بلوڅ...غازي ايوبخان او تر وزير يارمحمد خان، ملالۍ، ميربچه خان کوهدامني، عبدالله خان اڅکزی، امين الله خان نايب لوګري، امام بِردی ازبيک ، وزيراکبرخان، تر هاشم کاه فروش او بالاخره امان الله خان) هلې ځلې او نومونه يې پاتې دي.
د نولسمې پيړۍ په ترڅ کې زموږ ټول قوت او وخت له انګريز سره په مقابله کې تېر شو، د اتلسمې پيړۍ ستر ميراث او اقتصادی تفکر انګليس سره درېو جنګونو له امله ورو ورو پيکه شو. دوی هريو په دې خبر و چې اقتصاد، سکه(پولی واحد)، مالياتي نظام، تجارت، تعليم او صنعت او تخنيک د يو ملت د عزت او پياوړتيا لپاره ضرورت دی، نو ځکه استعمار او دهغه روزل شوې ارتجاع د همدغو ارزښتونو له منځه وړلو ته ځير و.
عجيبه ده چې د لويديځ نامتو مورخينو په ډېرو مواردو کې په دغو واقعيتونو اعتراف کړی، آن دا چې لوی فيلسوف کارل مارکس د افغانانو استعماري ضد پاڅونونه ياد کړې، د دوی اقتصادي نظام وضعيت او سرچينی يې تحليل کړي دي. د ختيځ نابغه سيدجمال الدين، استعمار او استبداد د ملت دوه دښمنان وبلل چې يو د بل زيږنده او يو بل سره تړلی و.
پايله:
استعماري ضد غورځنګونه؛ له لوديانو، خوشالخان، رحمن بابا، بايزيد روښان، تر هوتکيانو او بيا ابداليانو زموږ د هيواد ملی او سياسی هويت ژوندی وساته. دا غورځنګونه بعضاً مقطعی او منطقوی وو، خو هدف يې خپلواکي اوواحد وطن لرل او ابادول و، د دې ټوله روحيه او آرمان واحد او ملی دولت جوړول و. اتلسمه پيړۍ يې يوه له مجادلو، مبارزو، ټکرونو، سمونونواو بريالیتوبونه ډکه دوره وه. د دې په پايله کې چې پيل يې د ۱۷۰۹م. کال د اپريل يوويشتمه وه د احمد شاه بابا تر مهاله اوسنی افغانستان سر راپورته او د راز راز ستونزو سره سره ژوندی دی. د تاريخ درسونه او د سترميرويس نيکه تفکر موږ ته راښيي چې اقتصادی توانايی، سوداګري او صنعت د ملتونو د وحدت او قوت شرط دې. زموږ د معاصر تاريخ د نامتو اتل، ميرويس نيکه زيارت د کندهار د کوکران کلي کې دی. هرکال زرګونه تنه ورځي دعا ورته کوي. مخلصانو او ارادتمندانو يې په زيارت ليکلی دي:

بر سر مرقد ما چون گذری همت خواه
که زيارتگۀ مردان جهـــان خواهد بود

**اروا يې ښاده، فکر او ارمان يې غښتلی اوسه!**



*په ښکلي کندهار کې د مقالې د ليکوال يو انځور*


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ